# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده
د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري لمريز

۱

دوه نۍ (دوشنبه) د وري ۱ - ۲مه گڼه، پرله پسې (۴٦۵-۴٦٦) مه گڼه، د ۱۴۰۵ل کال د وري ۳۱مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د ذوالقعدة ۲ مه او د ۲۰۲٦م.کال د اپریل ۲۰مه


هـــغو بيـــا مونــد سعــادت پـــه دا دنيا
چې يـــې وکـــړ قنـــاعت پـــه دا دنيا
کـــــــه نعمت دی خـــو طاعت او عبادت دی
گـــــنه نشته بل نعمت پـــــه دا دنيا
عبدالرحمٰن بابا


اکاډمېسين څېړنپوه دوکتور سيد محی الدين هاشمي


# د داستاني ادب جوړښت؛ د ليکنې اصول او لارې (۱) برخه

سريزه: داستاني ادبيات په عام مفهوم هغو ادبياتو ته ويل کيږي چې بنسټ يې کيسه وي. دغه کيسې بيلابيل ډولونه لري: له حکايت، روايت رانيولې بيا د معاصرې لنډې کيسې، داستان، ناول، ډرامې او نورو پورې. په ځانگړې او اصطلاحي پيژندنه کې يې ويل کيږي هغه منثور اثار چې له کيسه ييز تخيلی، ادبي، هنري ماهيت څخه برخمن وي چې لنډه کی کيسه، لنډه کيسه، ناول، رومان او د هغو نورو اړوندو ډولونو ته داستاني ادبيات وايي. البته منظوم نندار ليکونه (نمايشنامې) چې حماسی، تراژيدي او کوميډي رنگ لري، ادبپوهان يې په داستاني ادبياتو کې نه شميری، خو ډرامه چې يوه کيسه په کې تر ډېره د کردارونو په مکالمو او تمثيل سره مخکې ځي، هغه په داستاني ادبياتو کې شامله گڼي.

په ځينو ليکنو کې ځان پيښې (خاطرې) او سفرنامې چې په کې د کيسې، حکايت، روايت او سرگذشت تومنه زياته ده، هم د داستاني ادبياتو په کتار کې راوستې دي خو ډېرى ادبپوهان يې له داستاني ادبياتو څخه له دې امله باسي چې له يوې خوا يې راوي پخپله ليکوال دی او له بل پلوه يې د هنري - داستاني ادب تومنه کمه او تر ډېره گزارشي بڼه لري.

له همدې امله ما هم په دې ليکنه کې چې د داستاني ادبياتو د جوړښت مسئله او د ليکنې د لارو چارو ښودنه ده، لنډه کيسه، ناول او ډرامه د داستاني ادبي ادبياتو د ډولونو په توگه در پيژندلي دي.

## د لنډې کيسې جوړښت او د ليکنې لار

۱. پيژندنه: لنډه کيسه د نثري کيسو يو ډول دی چې لنډه او له داسې يو له بله سره تړليو عناصرو او توکو څخه جوړه وي چې يو يې د بل تر اغېز لاندې وي. موضوع د خپل حدودو په چوکاټ کې رانغاړي، بې ضرورته خبرې نه په کې ځايېږي، د تأثر او اغېز يووالی په کې يوازينی شرط دی. په چوکاټ کې يې: پلاټ (طرحه) کرکټر، تجسس او تلوسه، مکالمې او منظر کښنه، تخيل، د کيسې پايله يا پيغام او نتيجه شامل دي. (هاشمي، ۱۳۹۳ل: ۹۵مخ)

د کيسې دغه ډول په اوسنې مفهوم په نولسمه پېړۍ کې رامنځته شوی دی. مشهور ليکوال ايډگرالن پوه يې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۴۲م کال کې ځانگړې او کره اصول وړاندي کړل.

د څېړنو څخه جوتيږي چې دغه نوي ادبي نثري ډول (ژانر) له انگريزي ادب څخه اردو او بيا له اردو څخه د شلمې پېړۍ په لومړيو کې پښتو ادب ته راغلی دی. سيد راحت زاخيلي لومړنی پښتون ليکوال دی چې په ۱۹۱۷م کال يې (کونډه نجلۍ) په نوم لومړنۍ پښتو لنډه کيسه ليکلې ده. (هاشمي، ۱۳۸۹ل: ۲۰۴مخونه)

۲. جوړښت او د ليکنې لار: ادب څېړونکو د لنډې کيسې د جوړښت لپاره يو شمېر توکي ښودلي دي چې ډېر مهم او بنسټيز يې دا دي:


۲مخ



ل: پروفيسور محمد نواز طائر

پښتو ژباړه: محمد الله ساپی


# پښتو ژبه او ادب (۴) برخه

**د پروفيسور محمد نواز طائر "پښتو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر لومړۍ مقاله**

که څه هم پښتو نثر په منظم ډول ( ٦۱۲هـ)-( ۱۲۱۵م) د سليمان ماکو له کتاب تذکرة اولياء څخه پيل شوی خو د پښتو ادبياتو په تاريخ کې بايزيد انصاري (۱) (د روښنايي غورځنگ مشر) ته د پښتو نثر بابا ويل کيږي. د تذکرو په کتابونو کې له ده څخه ډېر وړاندې د محمد علي بستي (۷۵۰ هـ)-(۱۴۸۷م) يادونه هم د پښتو نثر ليکونکو کې راغلې ده او ميجر راورټي هم د پښتو ژبې د نثر د يوې لرغونې نسخې چې له يوسفزيو سره خوندي وه، يادونه کړې ده. (۲) د نثر په دې ټولو کتابونو کې د بايزيد انصاري له خيرالبيان څخه پرته بل هيڅ کتاب تر اوسه زموږ تر گوتو نه دی را رسيدلی، نو د اوس لپاره همدا کتاب موږ د پښتو ژبې د نثر لومړی کتاب گڼلی شو. بايزيد انصاري په (۹۳۷هـ)-(۱۵۲۵م) کال کې وزيږېد، د پښتنو د اورمړو له قبيلې څخه و. نوموړي د نورو څو مهمو کتابونو له ليکلو پرته د تصوف او سلوک مشهور کتاب خيرالبيان هم وليکه. د پښتو د لرغوني نثر په اړه دا لاسوند تر کلونو کلونو په تياره کې پروت و خو خدای بخښلي مولانا عبدالقادر د دې کتاب قلمي نسخه په (۱۹۵۹م) کال چې لوېديځ جرمني ته په دوره تللی و، د ټيوبنگن پوهنتون د قلمي نسخو د کتابتون په زيرمتون کې ترلاسه کړه. (۳) بايزيد د روښاني نهضت مشر و، دې غورځنگ په پښتنو کې د تصوف او سلوک د عقايدو له خپرېدو پرته په کورني سياست کې هم پښتنو ته عملي لارې چارې ور وښودلې، پښتانه قبايل د دې تحريک تر سخت اغېز لاندې راغلل د دې غورځنگ په مخالفت کې سيد علي ترمذي مشهور په پير بابا او د نوموړي خليفه اخوند درويزه ټينگ ودريدل. (۴) د دې دواړو ډلو ترمنځ مخالفتونو کلونه دوام وکړ، چې له امله يې د پښتو نثر او نظم ښه وغوړيد. په دې موده کې ډېر ديوانونه او نور کتابونه وليکل شول، که څه هم په پښتو ادبياتو کې د دې عصر په اړه کره معلومات او تاريخي اسناد کم رنگه بريښي، خو بيا هم د دې دوران په اهميت سترگې نه شو پټولی، که څه هم پرته له شکه چې د دې پير د پای ادبيات يوازې د تصوف تر دايرې محدود پاتې شول.

> پښتو نثر په منظم ډول ( ٦۱۲هـ) - ( ۱۲۱۵م) د سليمان ماکو له کتاب تذکرة اولياء څخه پيل شوی خو د پښتو ادبياتو په تاريخ کې بايزيد انصاري ته د پښتو نثر بابا ويل شوي. د تذکرو په کتابونو کې له ده څخه ډېر وړاندې د محمد علي بستي (۷۵۰ هـ)-(۱۴۸۷م) يادونه هم راغلې. په دې ټولو کتابونو کې د بايزيد انصاري له خيرالبيان څخه پرته بل هيڅ کتاب تر اوسه زموږ تر گوتو نه دی را رسيدلی.

تر دې وروسته د پښتو لوی شاعر د تورې او قلم څښتن د خوشحال خان خټک(۵) دوران پيلېږي.

د پښتو ادبياتو په تاريخ کې دا دواړه مهمې دورې له خپل ځانگړي اهميت څخه برخمنې دي.


۳مخ


# ارفعيت او علويت


**پروفيسور دوکتور حنيف خليل**


ارفعيت او علويت دواړه د عربۍ ژبې توري دي چې د ادبي اصطلاحاتو په توگه هم راوړل کيږي. په انگرېزۍ کې د ارفعيت يا علويت لپاره (Sublime) اصطلاح راوړل کيږي. په دغه نوم د يونان د معروف نقاد او فلسفي لان جاينس کتاب هم شته. دغه کتاب د يونانۍ نه په انگرېزۍ کې د (On the Sublime) په نوم ترجمه شوی دی. او په اردو کې يې گڼ شمېر ترجمې شوې دي. پښتو کې دغه کتاب ما د ارفعيت په نوم ترجمه کړی او چاپ کړی دی. دغسې د علويت يا ارفعيت دغه اصطلاح د ټولې نړۍ په ادبياتو کې خوره ده. زه يې دلته د کاظم خان شيدا د يوه بيت په حواله د بحث موضوع جوړوم.

> د هر چا چې منور د بخت کوکب وي
> انــــــجذاب د کهکشان په کهربا کا

د شيدا په دغه بيت کې د علويت ښودلو نه مخکې پکار ده چې اول د علويت مفهوم واضح کړی شي. ارفعيت، اوچتوالی، بلندي يا جلال د علويت نور مترادف کلمات دي. زما په خيال که موږ د جلال مفهوم په نظر کې وساتو نو شايد چې څه نا څه اگاهي راته په اسانه حاصله شي او که د جلال په اړه د ورومبنيو افکارو لټون کوو نو په قول د سعيد احمد رفيق د سِسرو په افکارو کې به دغه تأثر ووينو. د سِسرو نه پس لان جاينس يو داسې ليکونکی دی چې په علويت يا جلال يې د "سبلايم" په نوم کتاب ليکلی دی او بيا ډېر وروستو کانټ هم په دغه نوم کتاب ليکلی دی.

> د سِسرو په افکارو کې د حسن دوه خاصيتونه جوت دي. يو نزاکت، لطافت او دلربايي او دويم عظمت، اوچتوالی او لوی والی. وړومبی خاصيت د جمال ښودنه کوي. او دويم د جلال.

د سِسرو په افکارو کې د حسن دوه خاصيتونه جوت دي. يو نزاکت، لطافت او دلربايي او دويم عظمت، اوچتوالی او لوی والی. وړومبی خاصيت د جمال ښودنه کوي. او دويم د جلال. د لان جاينس افکار زيات مفصل دي. هغه وايي چې د عظيم اديب خاصيت دا دی چې په خيالاتو کې يې ارفعيت وي. نور خلک د تخيل په اوچته سطح راولي. جذبه کې يې شدت وي. په ژبه او بيان شاعرانه قدرت لري او په لوستونکي يا اورېدونکي يو خاص قسم وجد راولي چې لوستونکي د هغه افکار بيا بيا وگوري او خوند ترې واخلي او چې هر وخت هر لوستونکی متاثر کړي.

> که موږ غور وکړو نو د سِسرو د افکارو سره متعلقه جلال به د خوشحال بابا شاعرۍ کې ووينو. د کانټ د جلال تصور به د کاظم خان شيدا په خيالاتو کې ووينو خو د لان جاينس افکار هم په خپلو کې په ډېرو موقعو تضاد لري. هم دغه وجه ده چې د ده په افکارو وروستو سکاټ جيمز او نور مفکرينو ډېر تنقيدونه کړي دي.

کانټ په خپل کتاب کې د جلال جدا تصور پيش کړی دی. هغه د حرکي او رياضياتي جلال په حقله بحث کړی دی. حرکي جلال يې په عظمت او رياضياتي جلال يې په مقدار کې ښودلی دی. دغسې د ذکر شويو درې واړو مفکرانو افکار جدا جدا حيثيت لري. که موږ غور وکړو نو د سِسرو د افکارو سره متعلقه جلال به د خوشحال بابا شاعرۍ کې ووينو. د کانټ د جلال تصور به د کاظم خان شيدا په خيالاتو کې ووينو خو د لان جاينس افکار هم په خپلو کې په ډېرو موقعو تضاد لري. هم دغه وجه ده چې د ده په افکارو وروستو سکاټ جيمز


۳مخ



اسدالله غضنفر


# سره "Sara" (۱) برخه

(۱) احمد او محمود سره پخلا شول.
(۲) احمد په قهر سره ووېل.
(۳) احمد او محمود سره ووتل.

که په لومړۍ جمله کې (سره) وباسو، نه په معنا کې فرق راځي، نه د جملې جوړښت ته صدمه رسېږي. البته، داسې گڼو چې دلته (سره) د (پخلا شول) د فعل لپاره توضيحي او تاکيدي نقش لري. توضيحي په دې معنا چې له بل چا سره د دوی پخلا کېدل نه بلکې د دوی په خپل منځ کې پخلا کېدل يادوو او تاکيدي په دې معنا چې که دا خبره واضح هم وي چې د دوی د خپل منځ پخلا کېدا ته اشاره کوو، (سره) په جمله کې د دې لپاره زياتوو چې په دې پېښه باندې تاکيد وشي.

په دويمه جمله کې (سره) د يوه قيدي عبارت (په قهر سره) برخه ده چې دلته يې هم نشتوالی نه د جملې او نه د قيدي عبارت جوړښت ته صدمه رسوي او نه معنا بدلوي خو په قهر ويلو باندې د يو څه تاکيد احساس راکولای شي.

په دريمه جمله کې د (سره) شتون او نه شتون د معنا يو کوچينی فرق راوستلای شي. که (سره) پکې وي نو دا واضح شوه چې احمد او محمود يو ځای وتلي دي او که (سره) ونه وايو، بيا دا احتمال هم شته چې يو ځای به نه وي وتلي. د لومړۍ جملې په نسبت په دريمه جمله کې د (سره) توضيحي نقش يو څه ډېر دی. په لومړۍ جمله کې د (سره) نشتوالی په عادي حالت کې دا شک نه راپيدا کوي چې د دوی د خپل منځ پخلا کېدو ته اشاره نه کوو خو په دريمه جمله کې د (سره) نشتوالی په عادي حالت کې دا شک پيدا کولای شي چې دوی ممکن له يو بله بېل وتلي وي.

(۴) احمد له محمود سره وران دی.
(۵) احمد له جاهلانو سره اوسي.
(٦)احمد او محمود سره وران دي.

په څلورمه او پنځمه جمله کې که (سره) وباسو، جمله شړېږي. په شپږمه جمله کې د (سره) نشتوالی جمله نه شړوي خو معنا يې وربدلوي. (احمد او محمود وران دي) يعنې احمد او محمود ورانی کوي، حال دا چـــــــــې (احمد او محمود سره وران دي) يعنې له يو بل سره يې جوړه نه ده.

ځينې فعلونه (لکه مرکه کول، خواله کول، مخامخ کېدل، جگړه کول، غږېدل...) د يو کس کار نه وي او اورېدونکي ته جمله هغه وخت پوره ښکاري چې (سره) پکې راوړو: احمد له محمود سره وغږېده؛ خبريال له وزير سره مرکه وکړه...

> پاسني مثالونه راښيي چې (سره) په ځينو قيدي عبارتونو کې اختياري دی او په ځينو کې اجباري. دغه راز (سره) له ځينو فعلونو سره خامخا راځي (سره ورانېدل= له يو بل سره مخالف کېدل) او له ځينو نورو سره يوازې يو تاکيدي يا توضيحي نقش لري.

پاسني مثالونه راښيي چې (سره) په ځينو قيدي عبارتونو کې اختياري دی او په ځينو کې اجباري. دغه راز (سره) له ځينو فعلونو سره خامخا راځي (سره ورانېدل= له يو بل سره مخالف کېدل) او له ځينو نورو سره يوازې يو تاکيدي يا توضيحي نقش لري.

استاد زيار (سره) کړول ډوله وييکی بولي (پښو پښويه، څلورم چاپ ۲۰۲ مخ) چې د فعل په معنا کې د وضوح او تاکيد پاژه يې قيد ته ورته ده.

(۷) احمد او محمود بازار ته لاړل.
(۸) احمد له محمود سره بازار ته لاړ.


۲مخ

## د داستاني ادبیاتو جوړښت؛...

پېښه یا واقعه، پلاټ (طرحه)، د کیسې پیلامه، کرکټر، سسپنس (تلوسه - ذهني هڅونه)، مکالمې او منظرکښنه. تخیل (خیال پردازي)، د کیسې اوج یا لوړ ټکی، د کیسې پایله او انتباع.

۱. پېښه (واقعه): پېښه یا واقعه د لنډې کیسې د جوړښت لپاره بنسټيز اهمیت لري. بې له پېښې څخه د کیسې رغښت او جوړښت ناشونی دی. همدغه پېښه یا واقعه ده چې له مخې یې د کیسې طرحه یا پلاټ جوړېږي.

د لنډې کیسې پېښې په دوه ډولونو اصلي او فرعي پېښو بېلېږي. اصلي پېښې هغه دي چې شته والی یې د کیسې د طرحې لپاره ضروري دی. دا پېښې د واقعاتو هغه لړۍ ده، چې د لیکوال په ذهن او فکر کې رامنځته شوې یا پنځېدلې ده او پر هغې یې د کېسې طرحه یا پلاټ جوړ کړی دی. فرعي پېښه یا پېښې هغه دي چې لیکوال د هغو په مرسته د کیسې طرحه پراخوي او د هغې کړۍ ته چې اصلي پېښې دي پیوند او اړیکې ورکوي. (یونسي، ۱۳۸۲ل: ۱۵۳-۱۵۴مخونه)

۲. پلاټ (طرحه): په کیسه کې د راغلې پېښې او واقعې طرحې ته پلاټ ویل کېږي. د یوې لنډې کیسې طرحه کېدای شي د یوه شخص د فکري، ذهني، روحي حالت او یا داخلي جذباتو او احساساتو څرگندونه وي. البته د دغې څرگندونې د تجزیې او تحلیل دنده معمولاً د کیسې د مهمو پېښو په غاړه ده.

ادب څېړونکو د لنډې کیسې دپلاټ لپاره دا لاندې بنسټيزې ځانگړنې ښودلې دي:

۱. پلاټ باید ډېر کړکېچن نه وي، څومره چې ساده وي اغیز او خوند یې زیات وي.

۲. باید چې له حقیقت او ربښتینولی سره اړه ولري او د ژوند ربښتینې انځور وړاندې کړي.

۳. نوښت او جدت د یوه ښه پلاټ لپاره ضروري دي. لیکوال باید دا ځواك او استعداد ولري چې زوړ شی هم په نوي ډول او انداز وړاندې کړای شي. (رضا، ۱۹۸۵م: ۲۳-۲۴مخونه)

۳. د کیسې پیلامه: سره له دې چې په عام ډول د لنډې کیسې پیلامه زیاتره لیکوال د خپل ذوق له مخې کوي خو بیا هم د پیلامې لپاره ځینې داسې غوره لارې چارې هم شته چې اوس تقریباً د یوه معیار په توگه گڼل شوې او منل شوې دي.

د لنډې کیسې پیلامه باید داسې وشي چې لوستونکی یا اورېدونکی لوستو یا اوریدو ته داسې لیوال کړي چې تر پای پورې هغه پرې نه ږدي.

۴. کرکټر یا د کیسې کردار (لوبغاړی): کرکټر یا کردار هغه څوك دی چې پخپلو کړنو او ویناوو پېښه او کیسه رامنځته کوي. دا کرکټر له ستونزو او خنډونو سره د مقابلې او مجادلې په ډگر کې له بېلابېلو حالتونو او پړاوونو سره مخامخ کېږي. غورځي او پرځي خو پخپل ټول وس او ځواك د موخې او هدف په لوري له وړاندې تگ څخه لاس نه اخلي.

د یوې لنډې کیسې په پېښه کې کیدای شي له یوه څخه زیات اشخاص یا په بله وینا کرکټرونه او کردارونه را څرگند شي. خو مرکزي کرکټر (قهرمان یا اتل) یکې هغه وي چې د پېښې جزیات په مجموع کې د هغه په شا و خوا څرخي. دا مرکزي کرکټر د پېښې د جزیاتو په بهیر کې ورو ورو را څرگندېږي او بیا یوې منطقي نتیجې ته رسېږي. (هاشمي، ۱۳۷۲ل: ۷۵مخ)

۵. سسپنس (تلوسه او ذهني هڅونه): تجسس یا سسپنس (تلوسه) نه یوازې په لنډه کیسه کې بلکې په هره هنري - ادبي لیکنه په ځانگړې توگه ټول داستاني ادب کې لازمي او ضروري توکی دی. لیکوال د خپل فن په مهارت د پېښې جزیات په داسې ترتیب راوړي چې لوستونکی یا اوریدونکی د لوستنې یا اوریدنې په مهال کې په یوه ډول فکري او ذهني تجسس، تلوسه او کشمکش کې راښکیل وي، ډول ډول غوښتنې او پوښتنې ورسره مطرح کېږي: داځه وشول؟ ولې وشول؟ څنگه وشول؟ او همدارنگه یې شبېه په شبېه له راتلونکو پېښو د خبریدو په هکله ذوق او تلوسه لا پسې زیاتېږي چې وروسته به نور څه کېږي؟

٦. مکالمې او منظر کښنه: په لنډه کیسه کې که څه هم مکالمو ته ډېره اړتیا نه پېښېږي. د ناول او ډرامې په پرتله یکې مکالمې لږې وي خو بیا یې هم له اهمیت څخه سترگې نشي پټیدلای، ځکه مکالمې د کردارونو په عادتونو او خصلتونو رڼا اچوي او پېښې مخ په وړاندې بیايي. مکالمې باید له کردار او پېښې سره سمون ولري خو ډېرې او بې ضرورته مکالمې دې نه کارول کېږي. کیسه بې خونده او ډرامه ترې جوړېږي.

دا چې هر کردار په یوه منظر کې اوسي او هره پېښه خامخا په یوه منظر کې پېښېږي او څرنگه چې لنډه کیسه معمولاً یوه پېښه وي او د کردار د ژوند یو اړخ پکې ښودل کېږي نو ځکه پکې منظرکښنې ته هم ډېره اړتیا لیدل کېږي. (یوسفزی، ۱۹۹۵م: ۱۷۸مخ)

۷. تخیل کارول (خیال پردازي): د نورو هنري- ادبي لیکنو په څېر په لنډه کیسه کې هم له لوړ تخیل څخه کار اخیستل کېږي. لیکوال د خپل تخیلي ځواك په وسیله د خپل ذهن پنځولې (تخلیق کړې) پېښې او کردارونه او تر څنگ یې منظرونه موږ ته په داسې ښه وړاندې کوي چې بالکل واقعیت ته نږدې او په ټولنیز ژوند کې د هغسې کیدو امکان موجود وي.

په دغه برخه کې د کیسې لیکوال معمولاً د یوه اروا پوه په څیر خپل خیالي شخصیتونه په خیالي فضا کې مخې ته دروي او د خپلو تخیلاتو او تصوراتو په ملتیا د هغو په هکله څېړنه او مطالعه کوي او له انساني ټولنیز ژوند څخه د هغو د کړنو او عملونو، خصلتونو، احساساتو او جذباتو طبیعي انځور (تصویر) اخلي. دلته لیکوال ته ډېر غور او دقت پکار دی، که په دغه تصویر کې ډېر لږ داسې غیر طبیعي والي هم را څرگند شي چې انساني ذهن یې په پېښندنه یا څرنگوالی او هغسې والي شکمن شي کیسه بې اغیزې کوي او دا د لیکوال په فني خامۍ او ناکامۍ دلالت کوي. (هاشمي، ۱۳۷۲ل: ۷٦مخ)

۸. د کیسې اوج یا لوړ ټکی: د لنډې کیسې هره طرحه باید د اوج ټکی او پرېکنده شېبې ولري، چې هغه باید په ډېرې اسانۍ سره وپېژندل شي. دې ته باید پاملرنه وشي چې د یوه ښه اوج (لوړ ټکی) لیکنه ډېره ستونزمنه او له کړاوه ډك کار دی. د کیسې لوړ ټکی (اوج) باید د مسایلو او مشکلاتو د حل پړاو وي. د مخه اچولې غوټې یوه په بلې پسې خلاصېږي او کیسه د خپلې منطقي پایلې په لور روانېږي.

۹. د کیسې پایله او انتباع: هره پېښه چې په کیسه کې وړاندې کېږي خامخا به پیل، اوج (لوړ ټکی) او پای لري. د کیسې پېښه د کرکټرونو (اصلي او فرعي کردارونو) د مکالمو، اعمالو، افعالو او منظرکښنې په وسیله ورو ورو پرمخ ځي، ناڅرگند اړخونه یې څرگند او اچول شوې غوټې خلاصېږي، تر څو روان کشمکش خپل وروستي پړاو (اوج) ته ورسېږي او د یوې منطقي نتیجې وړاندې کولو ته لاره پرانیستل شي. دا په واقعیت کې هغه پړاو دی چې دلته باید ټول هغه مقصد، اغیز او تاثیر یا پیغام چې لیکوال یې لوستونکي ته رسول غواړي بشپړ شي.

د لنډې کیسې لیکوالان دا پایله په دوه ډوله کوي:

لومړی: داسې چې کیسه لیکونکی لوستونکی یا اوریدونکی له ځان سره د تخیل په وزرونو ډېر لوړ خېژوي او د بېرته ښکته کولو او یا څه نتیجې ښودلو پر ځای اخر هغه له یوې کشالې سره مخامخ کړي او د کیسې لیکوال فیصله د لوستونکي یا اوریدونکي قضاوت ته پرېږدي. په دغې برخه کې د اوریدونکي یا لوستونکی سمه او مناسبه فیصله او د کیسې په اصلي موخه او غرض یا پیغام پوهیدنه د هغه په استعداد، ذکاوت او ځیرکتیا او له ژوند پېښو څخه په مطالعې او تجربې پورې نیغ په نیغه اړیکه او ارتباط لري.

دویم: په دې ډول پایله یا انتباع کې لیکوال هر څه تر ډېره په څرگندتیا سره وایي او د لوستونکي ذکاوت او ذهني ازموینې ته ډېر څه نه پرېږدي خو د ځینو ادب څېړونکو په اند د یوې لنډې کیسې ډېره بده او ناوړه پایله وړاندې کول هغه ده چې لیکوال یې هر څه پخپله ووایي او د لوستونکي سوچ او فکر کولو ته څه پرې نه ږدي. (هاشمي، ۱۳۷۲ل: ۷۸مخ)

### د ناول جوړښت او د لیکنې لار

۱. پېژندنه: د ناول لغوي معنا نوی تازه او عجیبه څیز ده او په ادبي اصطلاح کې هغه ادبي نثري داستان یا کیسې ته وایي چې له لنډې کیسې څخه لوی او له رومان څخه لنډ وي. په لیکنې چوکاټ کې یې د لنډې کیسې په شان طرحه (پلاټ)، کرکټرونه (اصلي او فرعي)، منظرکښنه، مکالمې، د کیسې پیل، منځ او پای لري خو له لنډې کیسې سره یې ستر او بنسټیز توپیر دا دی چې هم په کې پېښې په تفصیل سره بیانیدای شي او هم یې د کرکټرونو شمېر زیات وي، مکالمې او منظرکښنې یې هم د لنډې کیسې په پرتله اوږدې او پراخې وي. مسایل او پېښې په کې زیاتې او په تفصیل سره بیانېدای شي. (هاشمي،۱۳۹۳ل: ۹۵مخ)

په اوسني مفهوم د ناول پیلامه د اولسمې پېړۍ په وروستیو او د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې په لوېدیځ کې شوې ده. اساس یې هغه لس بېلې بېلې کیسې گڼل کېږي چې بوکاچیو په ایټالیا کې د دیکامیرن په نوم خپرې کړې. په لومړیو کې دغو کیسو ته د ناول (نوي) نوم ورکړل شو او بیا چې په انگریزي ادب کې د هغې په پیروي کیسې ولیکل شوې د ناول نوم پرې کېښودل شو. دا داسې کیسې وې چې د ژوند پېښو انځور یې په نوي او حیرانوونکي ډول وړاندې کاوه. پښتو ادب ته ناول په اوسني مفهوم له اردو ژبې د ډپټي نذیر احمد د لیکلو ناولونو "مرة العروس او توبة النصوح" د پښتو ژباړې له لارې راغلی دی چې لومړی یې میاحسیب گل کاکاخیل په ۱۲۹۳ هـ ق کې د "نقش نگین" او دویم یې محمد یوسف کاکاخیل د "توبة النصوح" په نومونو ژباړلي دي. وروسته چې پښتانه لیکوال د کیسې له دغه معاصر فن سره اشنا شوي سید راحت زاخیلي لومړنې پښتون لیکوال دي چې د "ناول د ماه روخي" په نوم یې خپله کیسه په ۱۹۱۰م کال چاپ او خپره کړې ده. (هاشمي، ۱۳۹۳ل: ۹۵مخ)

(پاتې په بله گڼه کې)

## سره "sara"...

بازار ته دوه کسه تللي دي خو په یوه جمله کې فعل ډېر گړی او په بل کې یو گړی دی. ولې؟

اوومه جمله دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې: بازار ته څوک تللي دي؟ خو اتمه جمله د دې پوښتنې ځواب دی چې احمد بازار ته په څه ډول تللی دی؟

په اتمه جمله کې مسند الیه یعنې د جملې هغه برخه چې د هغې په باره کې څه وایو، یوازې له احمد سره تعلق لري خو په اوومه کې احمد او محمود دواړه په مسند الیه کې شامل دي او فعل یې په همدې وجه جمع دی.

هغه کلمه چې د فعل په اړه توضیح ورکوي، قید بولو. (له محمود سره) عبارت چې په اتمه جمله کې د احمد د تللو د فعل په اړه یو څه راته وایي، د قید غونډې نقش تر سره کوي.

(له+اسم+ سره) کله د فعل لپاره قید ته ورته دنده تر سره کوي (لکه په اتمه جمله کې) او کله د فعل د مفعول پاړه لري، لکه په څلورمه، نهمه او لسمه جمله کې:

(۹) احمد له محمود سره خبره وکړه.

(۱۰) احمد له محمود سره مرکه وکړه.

کله کله د (په+اسم+سره) جوړښت په اړه قضاوت مشکل شي چې د جملې قیدي عبارت یې وبولو او که د مفعول نقش ورته قایل شو.

استاد زیار د (په) په اړه لیکي: »له (سره) اوستربل سره یو لوښیز (الی حالت) راښیي، لکه په بیاتي سره، په چړې سره، په وینا سره، په زور سره، په خوښی سره...کله کله ترې (سره) اوستربل لوېدای هم شي او اړوند نوم هم بې اوښتونه پاتېږي، لکه: په چاړه. په خوښه که په زور وي، له مظلوم د ظالم لاس لنډېږي...«

د استاد په نظر د ذریعې او وسیلې په قیدي عبارت (په چړې سره ،په بیاتي سره..) کې او د حالت په قیدي عبارت (په خوښی سره، په زور سره...) کې کله کله (سره) لوېږي خو زما په گومان د حالت او ذریعې په اکثرو قیدي عبارتونو کې (سره) نه وي. ما د خپلې ادعا د ثابتولو لپاره درې لنډ متنونه (د دستارنامې شلم خصلت، د استاد حبیبي توریالی پښتنه او د الفت نثري کلیاتو د پنځم چاپ په دوه سوه اووه نویم مخ کې د غم او خوشحالي په نوم لیکنه) په تصادفي ډول انتخاب کړل او ولوستل او هغه جملې مې راوایستلې چې د (په+اسم) عبارت کې د (سره) شتون ممکن و خو ان په یوه ځای کې هم (سره) نه و راغلی. په دغو جملو کې لومړی درې جملې د دستارنامې، ورپسې دوه د استاد الفت او وروستی څلور جملې د استاد حبیبي دي:

« د جامې خیرې په صابون لرې کېږي، د گناه خیرې په توبه په استغفار لرې کېږي.«

« گناه که په قصد وي که په نسیان، په واړو کې امیدواري د مغفرت شته.«

« ... چې څوک یې وظیفه کا بې ایمانه به له جهانه د حق په فضل لاړ نه شي.«

«دغه اجباري واده دا مجبوره کړه چې په زهرو ځان ووژني او له ډولۍ نه جنازه جوړه کړي.«

«... خوشحالي څوک په زور او اقتدار یا په ډېرو پیسو کور ته نه شي راوړلی...«

«... چې سپوږمۍ یې په حسن شرموله.«

«په ډېر افسوس تاسې او توریکی په خدای سپارم.«

«... په خورا قهر یې وویل...«

« د کلا دننه غازیان ټوله د غلیم په طیارو، ټوپکو او توپو شهیدان شوي دي.«

د استاد آصف صمیم په راتلو کړیو متلونو (د متلونو کلیات) کې شاوخوا دېرش متلونه د (په + اسم) په قیدي عبارت پیلېږي. په دغو کې یوازې یو عبارت داسې دی چې (سره) هم پکې شته: "په چل سره مار هم نیولی شي."

د استاد آصف صمیم په راتلو کړیو متلونو (د متلونو کلیات) کې شاوخوا دېرش متلونه د (په + اسم) په قیدي عبارت پیلېږي. په دغو کې یوازې یو عبارت داسې دی چې (سره) هم پکې شته: »په چل سره مار هم نیولی شي. « دلته د (سره) د راتلو وجه د (چل) د اسم لنډوالی دی. د قیدي عبارت اسم چې یو سیلابه وي، دا امکان زیاتېږي چې (سره) ورسره شي. موږ (په پام سره) زیات اورو، ځکه د (پام) د لنډوالي په وجه، که ټینگار ته اړتیا وي یا نه خو ممکن (سره) راوړو، مگر (په توجه سره) معمولا هغه وخت وایو چې ټینگار ته اړتیا وي. د در مکنون په اته شپېتم مخ کې لولو:»چې محمد (ص) له معراجه راغی، کفارو تصدیق د محمد (ص) د قول نه کاوه او له حضور (ص) یې نښانۍ د هغه ځای غوښتې چې حضور (ص) ورته په توجه سره نه وو کتلي. له دې جهته خدای تعالی حضور (ص) ته بیت المقدس مخامخ ودراوه چې کافرانو به پوښتنه کوله او حضور (ص) په مکه کې بیت المقدس ته کتل او ځواب به یې کافرانو ته ورکاوه.«

چې په قیدي عبارتونو کې ټینگار ته اړتیا نه وي، (سره) ډېر څله نه راوړل کېږي. د پښتو ادب د منـــــل شویو استادانو د جملو په قیدي عبارتونو کې چې چیرته (سره) راغلی، ډېر څله یې دلیل موندلای شو، مثلا د کلام د سلاست یا د ټینگار تقاضا وي.

د رحمان بابا په لاندې بیتونو کې تاکیدي نقش لري او ښه لگېږي:

چې د زلفو په کمند سره دې راکیښ
په بلا دې گرفتار کړ زما دل
که په صبر سره تور کانی لعل کېږي
لعل یې مه کړه، پر دا هسې شواخوان

چې د زلفو پـــه کمند سره دې راکیښ
په بلا دې گـــــــــرفتار کړ زما دل
که په صبر سره تـــور کانی لعل کېږي
لعل یې مه کړه، پر دا هسې شواخوان

ذریعه چې په اصل کې د بل شي لپاره وي او یا غیرمادي ذریعه وي (لکه په صبر سره) نو دا چانس یو څه ډېرېږي چې (سره) په قیدي عبارت کې شامله شي.

په دستارنامه کې لولو:...»هونبره قطره شاهین هونبره لویه زاڼه په همت سره وهي.«

د ذریعې په قیدي عبارت کې چې ذریعه د خپل اصلي کارلپاره راغلې وي، دا امکان کم دی چې (سره) ورسره راشي. ډېر څله اورو چې په ستن یې وگنډه، په ماشین (خیاطی ماشین) یې وگنډه، په چاړه یې غوخ کړه، په بیاتي یې څیرې کړه... خو که همدا وسایل د بل شي لپاره استعمال شي، بیا دا چانس یو څه زیاتېږي چې (سره) په قیدي عبارت کې شامل شي، لکه په دې جمله کې چې له ستن څخه یوه بله استفاده شوې ده: له پښې څخه مې اغزی په ستن سره راوایست.

دا هم کېدونې ده چې د ابهام د مخنیوي لپاره له (په+اسم) قیدي عبارت سره( سره) زیات شي: هغه یې په بې رحمۍ سره ووژه.

دلته که سره نه وي نو دا معنا هم لرلای شي چې بې رحمي یې کوله او ووژل شو.

دا سمه ده چې د ذریعې قیدي عبارتونه (لکه په دې جمله کې په توره: په ډېران مړ خر یې په توره وواهنه) یا د حالت او کیفیت قیدي عبارتونه (لکه په دې جمله کې په مړو سترگو: ما ته په مړو سترگو کتل مه کوه) که له (سره) وییکې سره راشي، ناسم نه دي خو که خاصه اړتیا پوره نکړي، ممکن د بې خوندۍ سبب شي. د استاد الفت په دې جمله کې د قیدي عبارت (سره) د دې لپاره دی چې ورپسې عبارت هم پر (په) پیلېږي او لیکوال بهتره گڼلې ده چې د دواړو عبارتونو فرق لا محسوس شي: ...» یو سم او صحیح انسان د یوې سمې او صحیح نقشې او صحیح پروگرام په طرح کولو سره په دنیا کې لوی لوی کارونه کوي...)»د الفت نثري کلیات، ۵ چاپ،۲۸۲ مخ)

موږ ممکن غوره وبولو چې (په خواشینۍ سره) وواېو، نه (په خواشینۍ) ولې؟ په غالب گومان د جملې د موسیقي او سلاست اړتیا ده. د ایاز داوود زي په(ادبي هڅې) کې لولو: »گلستان میدان ته راووتلو چې هره میاشت په باقاعدگۍ سره چاپېږي. «د (ادبي هڅې) بله جمله: «اوس به په ازادۍ سره خوراک ښکاک کوي.»(۷۴۲ مخ)

په تاریخ مرصع کې لولو: ...»یو مرید شعر د عربي په غاړه د پښتو په خوښ اوازۍ سره لوست.)»( ٦٠٦ مخ)

له هغو اسمونو سره هم چې وروستی توری یې(ت) وي، د (سره) د راوړلو امکان شاید یو څه زیات شي. رحمان بابا فرمایي:

خـــــزانه په سخاوت سره زیاتېږي
د کوهي اوبه چې وکاږې بسیار شي

په دستارنامه کې لولو: »په حلم، په برداشت سره وران کارونه سازېږي. په نه حلم ودان کارونه وران شي.«

حنان بارکزی وایي:

آبـــــــــرویي په قناعت سره زیاتېږي
گوهر گوره ترې پروت وي په دریاب کې

ډاکتر عبدالرزاق پالوال په خپل کتاب (معیاري پښتو) کې د وییکو په شمول د پښتو ژبې او گرامر په مختلفو مسایلو غږېدلی دی. د بل، سربل، اوستر بل، منځبل، غبرگ بل او یو ستوی بل کلمې هم لکه چې دوی جوړې کړې دي.

ډاکتر پالوال د (په...سره) په اړه لیکي:»د اسم آلي حالت ښووي چې د وسیلې په توگه استعمالېږي.«

د معیاري پښتو مولف لیکي چې په اوسنیو گڼو لیکنو کې د (په...سره) په ځای (په ... باندې)راځي او دا غلطه ده. دوی له رسنیو مثالونه راوړي دي، لکه دا جمله: «په عراق کې یې په 52B باندې بمباري وکړه.»

استاد لیکي:»وړاندنی کړښه داسې مانا ورکوي چې بمباري پر 52B باندې سوې ده. 52B په مفعولي حالت کې واقع کېږي خو د ویاند مراد به خود داسې و:»په عراق کې یې په 52B سره بمباري وکړه.» (معیاري پښتو،۲۰۲ مخ)

ډاکتر پالوال په دغو دوو جملو کې لومړۍ ناسمه او دویمه سمه گڼي:

« د هغه وخت په وسایلو باندې کار نه کیدی.»

« د هغه وخت په وسایلو سره کار نه کیدی.»

ډاکتر پالوال استدلال کوي چې د (په... باندې) په منځ کې اسم مفعولي حالت مومي خو د (په...سره) په منځ کې اسم د ذریعې نقش خپلوي.

ډاکتر پالوال د (په ...سره) د نه راوړلو عیب ته اشاره کړې ده خو په اوسنیو مطبوعاتو کې داسې جملې هم کمې نه دي چې د (په...سره) بې ځایه راوړلو ژوبلې کړې دي چې تر ډېره حده د ناسمې ژباړې اغیز ښکاري.

(پاتې برخه بله گڼه کې)

# پښتو ژبه او ادب...

څېرونکي دې دواړو دورو ته د پښتو ادب زرینې دورې وايي او د پروفیسر ایس ایم ادریس په قول:
((د پښتو ادبیاتو دریم دور د پښتو ادبیاتو لپاره د پرمختګ ډېر لوی دور دی او له همدې امله له دې سره سم د پښتو ادبیاتو نوی دوران پیلېږي.))
خوشحال خان خټک د دې عصر ځانګړی لوبغاړی او په دې دوران کې مرکزي مقام لري،دا هماغه لوړ شخصیت دی چې د پښتو شاعري یې له نوي اسلوب او ترکیبونو سره اشنا کړه. د اوسني عصر د هنر او فن استادان خوشحال خان خټک ته د پښتو بابا وايي. (٦) دا هغه دور دی چې په پښتو ادبیاتو د فارسي ژبې غزل، رباعي، مثنوي، لنډه دا چې دې ټولو اصنافو سخته غلبه کړې وه او هم د پښتو ژبې ادیبانو او شاعرانو د فارسي ژبې په پیروۍ او تقلید لاسونه پورې کړي وو، د حافظ شیرازي صوفیانه کلام چې د عبدالرحمن بابا په افکارو او خیالاتو یې سخت اغیز وکړ او هم یې د ده کلام ته هغه ښکلا او اعجاز ور په برخه کړ چې اوس په پښتنو کې تر ټولو محبوب شاعر ګڼل کېږي. د نوموړي دیوان د غزلونو ټولګه ده، دې غزلونو ته د پښتو په ځانګړې اصطلاح کې د رحمان بابا رباعي وايي. په همدې ډول په دې دوران کې حمید ماشوخیل، عبدالقادر خټک، اشرف خان هجري، کاظم خان شیدا، سکندر خان، صدرخان، کامګار خټک، علي خان، بابوجان، کریمداد، مصري خان، معزالله خان مهمند، افضل خان خټک او د احمد شاه بابا په څېر مخکښ شاعران او ادیبان تېر شوي دي. تر دوی پرته ډېرو نورو لیکوالانو، شاعرانو او د قلم خاوندانو په دې دوران کې د خپلو قلمونو غوره بېلګې پښتو ادب ته په میراث پرېښودې. دې شاعرانو او ادیبانو په دې دوران کې پښتو ژبه په نثر او نظم ښه غني کړه. په دې زمانه کې لږ و ډېر تر دوو سوو لویو شاعرانو د خپلو افکارو او خیالاتو لوربینه د پښتو ژبې په ادبیاتو وکړه. دا پېر چې د شعر و شاعرۍ دوران وو، نو ځکه نثر پکې کم رنګه برېښي، خو بیا هم په نثر کې څو مهم کتابونه ولیکل شول. د دې نثرونو زیاتره موضوع د مذهب، تاریخ، سوانح او یا په اخلاقیاتو راڅرخیدله، په دې کې د ځینو نمونه په دې ډول دي. ګلدسته چې د سعدي د ګلستان ژباړه ده او عبدالقادر خټک تالیف کړې ده. انوار سهیلي بل کتاب دی چې افضل خان خټک پښتو ژبې ته وژباړه. (۷) دستارنامه د خوشحال خان خټک تالیف دی. قلب السیر د ګوهر خان خټک تالیف دی. (۸) او تاریخ مرصع د افضل خان خټک تالیف دی. په دې دوران کې د پښتو مثنوي هم د وګړو په زړونو کې ځای ونیوه او په دې صنف کې په پښتو ژبې د مینې داستانونه یا کیسې ولیکل شوې، په دې کیسو کې د صدرخان خټک دوه کیسې، ادم خان او درخانۍ، دلۍ او شهۍ، د عبدالقادر خټک یوسف او زلیخا او د حمید ماشوخیل د شاه او ګدا کیسه ډېره مشهوره شوه.
تر دې وروسته د پښتو شاعرانو په اولسمې، اتلسمې او نوولسمې پېړۍ کې بې شمېره کیسې په مثنوي ولیکلې، چې له دې سره ورو ورو د پښتو مثنوي معیار ډېر ښکته را ولوید او موضوع یې له فکري زوال سره مخ شوه. تر دې وروسته مثنوي د پښتو ولسي سندرو ته لار پیدا کړه. تر دې چې د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په لومړیو څلورو لسیزو کې مثنوي یوازې ولســي کیسو، جنګنامو او د اساطیرو ګډو وډو پېښو ته په پیکه رنګ کې محدوده پاتې شوه. تر دې ځایه تر را رسیدو وروسته مثنوي او بدلې په خپل منځ کې پیوستون بیا موند، په دې موده کې به د اکثرو وګړو رومانوي او د مینې کیسې خوښېدې. (۹) په دې زمانه کې په پښتو ژبه کې څو مذهبي کتابونه او مجلې ولیکل شوې. په دې کتابونو کې رشیدالبیان، درمجالس، معراج نامه او معجزات په ځانګړي ډول د یادونې دي. (۱۰) تر دې پرته ځینې ساده خطبې هم په پښتو ژبه کې ولیکل شوې چې د ټولو پښتنو

> خوشحال خان خټک د دې عصر ځانګړی لوبغاړی او په دې دوران کې مرکزي مقام لري. دا هماغه لوړ شخصیت دی چې د پښتو شاعري یې له نوي اسلوب او ترکیبونو سره اشنا کړه. د اوسني عصر د هنر او فن استادان خوشحال خان خټک ته د پښتو بابا وايي. دا هغه دور دی چې په پښتو ادبیاتو د فارسي ژبې غزل، رباعي، مثنوي، لنډه دا چې دې ټولو اصنافو سخته غلبه کړې وه.

ډېرې خوښې شوې. دا مذهبي کتابونه په کورونو کې د نجونو لپاره په درسي کتابونو واوښتل او د نارینه وو په پرتله په کورونو کې ناستو مېرمنو ته د خوښۍ سرچینه وګرځیده. د دې کتابونو له برکته تر نولسمې پېړۍ د نارینه وو په پرتله د مېرمنو لیک لوست ډېر زده وو.
د احمدشاه بابا له مړینې وروسته د روه په خاوره سخته سیاسي بې ثباتي رامنځته شوه. له یو لورې په هند کې د مغلو واکمني له زوال او ځوړ سره مخ شوه او له بل پلوه مرهټیانو او سیکانو د لنډ مهال لپاره سرونه راپورته کړل او تر دې وروسته په منځنۍ اسیا کې روسان او په جنوب ختیځ هند کې انګریزان په لویو ځواکونو واوښتل. د دې دواړو لویو ځواکونو تر منځ د ناندریو او تاوتریخوالي له امله د روه سیمه هم بې اغیزې پاتې نه شوه سوکه سوکه د لویو ځواکونو انډوخر او تاو تریخوالي په مستقیم ډول په دې سیمه کې خپل ټولنیز، مالي، سیاسي، ثقافتي او

> د پوځي مهماتو، مذهبي جنګونو او د سیاسي اړ دوړ په دې دوران کې هرې یوې ډلې زیار کاوه چې پر بلې برلاسې شي او د قدرت غوښتونکي یو له بل سره ښکر په ښکر او په نښتو کې ښکیل شول. له دې کړکېچن چاپیریال څخه د وګړو اخلاق، کردار او افکار سخت اغېزمن شول او ډېر لوی غیر سیاسي بحران رامنځته شو چې اغیز یې د دې وخت د نظم او نثر په انځورونو کې له ورایه برېښي... په عمومي ډول په دې موده کې پښتو ادب ټکنی او له زوال سره مخ وو.

په تعلیمي چاپېریال اغیز وکړ، د دې پایله دا شوه لکه د مثنوي په څېر د پښتو د شعر نور اصناف هم له زوال او ځوړ سره مخ شول، د اتلسمې او نوولسمې پېړۍ شاعرانو او ادیبانو و نه شو کړای چې د خپلو مخکنیو شاعرانو په پل پل کېږدي.
د پوځي مهماتو د مذهبي جنګونو او د سیاسي اړ دوړ په دې دوران کې هرې یوې ډلې زیار کاوه چې پر بلې برلاسې شي او د قدرت غوښتونکي یو له بل سره ښکر په ښکر او په نښتو کې ښکیل شول، له دې کړکېچن چاپیریال څخه د وګړو اخلاق، کردار او افکار سخت متاثره شول او ډېر لوی غیر سیاسي بحران رامنځته شو چې اغیز یې د دې وخت د نظم او نثر په انځورونو کې له ورایه برېښي،که څه هم د ګوتو په شمېر څو لوړ پوړي ادیبان او شاعران لکه امیرمحمد انصاري، حافظ الپوري، پیرمحمد کاکړ، نجیب، میا نعیم، محمدي صاحب زاده، بیدل، خوشحال شهید، عبدالعظیم رانیزی او همداسې نور په همدې موده کې ژوندي وو خو په عمومي ډول په دې موده کې پښتو ادب ټکنی او له زوال سره مخ وو.
په دې دوران کې محمدي صاحب زاده تفسیر یسیر او دوست محمد خان حسیني تفسیر په پښتو وژباړه. (۱۱) په دې موده کې په پښتو کې چاربیتو غزونې وکړې، دا د پښتو ژبې هغه ولسي صنف دی چې په دې کې د توري او مېړانې د جګړې او نښتو پېښې په زړه راښکونکې توګه بیانېږي. لکه څرنګه چې همدا دوران د جګړو او نښتو کړکېچنه او ویرجنه زمانه وه، نو د پښتو چاربیتې د پنځولو لپاره تر ټولو غوره دوران وو. یو فرانسوي مستشرق ډارمستېټر د نولسمې پېړۍ په وروستۍ ربع کې د دې وخت ځینې مشهورې چاربیتې راټولې کړې او "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" په نوم یې چاپ او خپرې کړې. په دې وخت کې د پښتو لغات جوړولو چارې هم پیل شوې. دوو وروڼو نواب محبت خان او نواب الله یارخان روهیله د لکهنو په سیمه کې د خپلې نظر بندۍ په موده کې د پښتو او فارسي ژبې دوه مشهور د ویپانګو کتابونه د ریاض المحبت (۱۲) او عجائب اللغات (۱۳) په نومونو ترتیب کړل. په همدې موده کې محمد ارتضا خان د ډیلي په ښار کې د ارتضایي فرهنګ په نامه په پښتو ژبه کې د ویپانګې یو کتاب ولیکه. تر دې لږه موده وروسته مستشرق راورټي او بیلیو د پښتو او انګلیسي ډکشنري ولیکله.
په دې موده کې د شعر و شاعرۍ په مقابله کې نثر ډېر وتوکیده. د محمد هوتک مشهور تالیف پټه خزانه د همدې دورې یادګار دی. تر دې پرته د تاریخ مشهور کتاب تواریخ حافظ رحمت خاني (۱۴) هم په همدې موده کې ولیکل شو. په دې دوران کې جنرال واګان، میجر راورټي، بیلیو، ډارمستېټر، پروفیسر ډرون او د پادري هیوز په څېر د غرب لوړپوړو مؤرخانو پښتو ادب ته ډېر چوپړ ترسره کړ. تر دوی پرته نورو ډېرو مستشرقینو هم د پښتو ژبې او ادب لپاره لیکني رابډ وهلې او پښتو ژبه او ادب یې په غربي نړۍ کې په خپله خپله ښه معرفي کړ. (۱۵) په دې موده کې له اټک څخه وراخوا هوارې سیمې لومړی سیکانو او تر هغوی وروسته بیا انګلیسانو په خپلې ولکه کې کړې. دا هغه زمانه وه چې یو ځل بیا په پښتو ژبه کې ولسي- سندرو غزونې وکړې او د دې سندرو له لارې به یې په حجرو او دیرو کې د وګړو ولولې او هیوادنۍ مینه راپاروله او د دښمنانو

> په دې موده کې د شعر و شاعرۍ په مقابله کې نثر ډېر وتوکید. د محمد هوتک مشهور تالیف پټه خزانه د همدې دورې یادګار دی. تر دې پرته د تاریخ مشهور کتاب تواریخ حافظ رحمت خاني هم په همدې موده کې ولیکل شو. په دې دوره کې جنرال واګان، میجر راورټي، بیلیو، ډارمستېټر، پروفیسر ډرون او د پادري هیوز پښتو ادب ته ډېر چوپړ ترسره کړ. تر دوی پرته نورو ډېرو مستشرقینو هم پښتو ژبه او ادب په غربي نړۍ کې په خپله خپله ښه معرفي کړ.

> د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې په اردو ژبه لیکل شوي ځینې غوره کتابونه پښتو ژبې ته وژباړل شول. په دې کتابونو کې د مولانا الطاف حسین حالي مشهور مسدس مدجزر اسلام، د ډپټي نذیر احمد ناولونه مراة العروس او توبته النصوح، د ابن بطوطه سفرنامه او په دې ډول نور ډېر د نظم او نثر کتابونه شامل دي. د دې دور د لیکوالو په ځانګړي ډول د غلام محمد پوپلزی، میا عنوان الدین کاکاخیل، میا حسیب ګل، میا نعمان الدین او میا محمد یوسف کاکاخیل نومونه د یادونې وړ دي. تر دوی پرته شمس العلماء میر احمد شاه رضواني، مولوي احمد او ملا احمد جان هم د پښتو ژبې په ادبیاتو کې لوی نوم پیدا کړ.

سره یې خلک د جګړې ډګرونو ته چمتو کول. د دې دوران په ولسي سندرو کې د احتجاج او د کسات تر څنګ د هغو مېړنیو نومونه د تاریخ حافظې ته سپارل کیدل، کومو ننګیالیو چې به د هیواد او د دین په لاره کې سرښندنې کړې وې. په دې زمانه کې د سید احمد شهید بریلوي، مبارزې پښتو شاعرۍ ته یو نوی رنګ ورکړ، چې بیا وروسته همدې شاعرۍ په پښتو ادبیاتو کې په یوې نوې ښه قومي رنګ خپل کړ. (۱٦)
د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې په اردو ژبه لیکل شوي ځینې غوره کتابونه پښتو ژبې ته وژباړل شول، په دې کتابونو کې د مولانا الطاف حسین حالي مشهور مسدس مدجزر اسلام، د ډپټي نذیر احمد ناولونه مراة العروس او توبته النصوح، د ابن بطوطه سفرنامه او په دې ډول نور ډېر د نظم او نثر کتابونه وژباړل شول. د دې دور د لیکوالو په ځانګړي ډول د غلام محمد پوپلزی، میا عنوان الدین کاکاخیل، میا حسیب ګل، میا نعمان الدین او میا محمد یوسف کاکاخیل نومونه د یادونې وړ دي. تر دوی پرته شمس العلماء میر احمد شاه رضواني، مولوي احمد او ملا احمد جان هم د پښتو ژبې په ادبیاتو کې لوی نوم پیدا کړ.

## مأخذونه او څرګندونې

(۱). بایزید انصاري ته د پښتنو د ملتپالنې لارښود ویل کېږي، نوموړی د روښاني غورځنګ بنسټ کېښود. په دې اړه عبدالحی حبیبي لیکلي دي چې په زرم هجري کال کې پښتو ادب له سیاسي بدلونونو څخه هم اغیزمن شوی دی. په لسو پېړیو کې د پښتنو ژوند د خپلې آزادۍ او پښتونولۍ د ساتنې په یوه مسلسله مبارزه کې تېرېده. د پیر روښان د ازادۍ خواهۍ جګړې او د پښتنو د سیاسي وحدت لپاره د ده هڅه ډېره ښه او مشکوره ده. (وګورئ د حبیبي د ادبیاتو تاریخ ۱۲مخ.
(۲). د پښتو ګرامر د میجر راورټي ۳مخ.
(۳). خیرالبیان د پښتو اکاډمي چاپ.
(۴). تذکره الابرار والاشرار د اخوند درویزه. د حالنامې لیکوال محمد علي مخلص. د پښتو اکاډمۍ د کتابتون قلمي نسخې. د پښتو ادبیاتو تاریخ د عبدالحی حبیبي.
(۵). د زوکړې نېټه یې د(۱۰۲۲هـ) د ربیع الثاني او د مړینې نېټه یې د (۱۱۰۰هـ) د ربیع الاول د میاشتې سره برابره ده. (وګورئ د پښتو ادبیاتو تاریخ)
(٦). د خوشحال خان شخصیت د نورو پښتنو لیکوالو او شاعرانو څخه په دوو خبرو ممتاز دی. یو دا چې نوموړی یو لوی جنرال و. بل داچې د شعر او نثر په ډګر کې یې د پښتو ژبې لپاره تر ټولو ډېرې چوپړتیاوې ترسره کړې دي. پښتو ژبه یې له هر ډول افکارو سره اشنا کړې ده. د هغه په کلام کې قصیده، غزل، رباعي، مثنوي، مخمس، مربع، مسدس دا ټول اصناف ځای لري. هغه پښتو نثر د ټولو د پوهیدو وړ وګرځاوه. له دیوان څخه پرته یې د نظم او نثر په موضوع کې ښکلي کتابونه ولیکل.
(۷). د دې کتاب د پښتو ژباړې نوم علم خانه دانش دی چې قلمي نسخه یې په پښتو اکاډمۍ کې شته.
(۸). د پښتو ادب تاریخ د عبدالحی حبیبي. قلمي نسخه یې په پېښور موزیم کې شته.
(۹). د پښتو ادب لنډتاریخ، د حبیبي تدریسي یادښتونه.
(۱۰). تېر هېر شاعران د عبدالحلیم اثر افغاني.
(۱۱). د هند او پاک د مسلمانانو د ادبیاتو تاریخ (د پښتو ادب څلورم دور).
(۱۲). ریاض المحبت (فوټو کاپي). د پښتو اکاډمۍ کتابتون.
(۱۳). عجائب اللغات.
(۱۴). تواریخ حافظ رحمت خاني د پښتو اکاډمۍ.
(۱۵). د هند او پاک د مسلمانانو د ادبیاتو تاریخ ( داتلسمې او نولسمې پېړۍ په موده کې کومو غربي مؤرخانو چې د پښتو ژبې او ادب په اړه چارې تر سره کړې، د بشپړ تفصیل لپاره دې د مؤلف روهي أدب کتاب ته دې مراجعه وشي.)
(۱٦). د پښتونخوا د شعر هار و بهار د پروفیسر جمیز ډار مستېټر د پاریس چاپ.
(پاتې برخه بله ګڼه کې)

# ارفعیت او علویت...

او نور مفکرینو ډېر تنقیدونه کړي دي. د لان جاینس دا خبره خو ډېره درسته ښکاري چې عظیم یا رفیع ادیب لوستونکي د تخیل په یوه اوچته سطح ودروي خو په دې کې دومره قدر اضافه پکار ده چې هر لوستونکی دغه سطحې ته په هم دغسې ارفع ادب هم نه شي رسېدی بلکې هغه لوستونکی چې د علویت په حقله د غور و فکر د څه نه څه مرحلو نه تېر شوی وي او ذهني تربیت یې شوی وي که یو ارفع ادب د یو بې تربیته لوستونکی د تخیل په هغه سطح فائز نه کړي کومه چې د ارفعیت تقاضا ده نو په دې کې د ادب قصور نه دی بلکې د لوستونکي دی ځکه چې د هغه ذهني تربیت نه دی شوی. په داسې حال کې د ادب ارفعیت یا علویت ته څه نقصان نه رسي. په دې بنیاد د لان جاینس خبره لږه شان نیمګړې معلومېږي.

> د لان جاینس دا خبره خو ډېره درسته ښکاري چې عظیم یا رفیع ادیب لوستونکي د تخیل په یوه اوچته سطح ودروي خو په دې کې دومره قدر اضافه پکار ده چې هر لوستونکی دغه سطحې ته په هم دغسې ارفع ادب هم نه شي رسېدی بلکې هغه لوستونکی چې د علویت په حقله د غور و فکر د څه نه څه مرحلو نه تېر شوی وي او ذهني تربیت یې شوی وي که یو ارفع ادب د یو بې تربیته لوستونکی د تخیل په هغه سطح فائز نه کړي کومه چې د ارفعیت تقاضا ده نو په دې کې د ادب قصور نه دی بلکې د لوستونکي دی ځکه چې د هغه ذهني تربیت نه دی شوی.

له دې نه علاوه د لان جاینس دا خبره چې ارفع ادب په هر دور کې هر څوک متاثره کوي هم نیمګړې شان ده. ځکه چې په هر دور کې هر څوک خو د دې سطحې نه وي چې د ارفع ادب نه هم مسرت واخستی شي. که مونږ دغه خبره په مکمل ډول ومنو نو بیا خو پکار ده چې د کاظم خان شېدا ټوله شاعري پخوا هم او اوس هم د هر چا لپاره د مسرت او حظ ذریعه وای خو داسې نه ده ځکه چې هر څوک دغه درجې ته نه شي رسېدی چې د شېدا غوندې عظیم شاعر د ارفع شاعرۍ نه خوند واخلي او پرې پوهه شي.
لان جاینس چې د جذبې د شدت خبره کړې ده. دا د ټولو نه زیات وزن لري ځکه چې د علویت تعلق د جذبې او بیا د جذبې د شدت سره دی. دغه شان د ارفع ادیب لپاره ژبه او بیان قدرت هم ضروري دی ځکه چې معمولي او سطحي خیال خو په هر قسمه الفاظو کې وړاندې کېدای شي ولې د ارفع خیال د وړاندې کولو لپاره کله کله الفاظ نه وي موجود ځکه نو دغه قسمه خیال وړاندې کوونکي ته د ژبې او بیان مشکل مخې ته ولاړ وي او که مونږ د شېدا نه یواځې په دغه شعر کې، بلکې په ټوله شاعرۍ کې فکر وکړو نو د خیال د علویت له وجې یې ښه بې دریغه د فارسي ژبې تاثر اخستی دی. په دغه مذکوره شعر کې وايي:
"د چا د قسمت ستورې چې روښانه وي نو د هغه مثال داسې دی لکه کهربا چې په معمولي ځان مکمل کهکشان ځان ته راکاږي."
د کهربا معنیٰ فرهنګ عمید کې داسې لیکلې ده.

> "د سروه او کاج د ونو د نسل نه یو بوټی دی چې په پخوانو وختونو کې به ډېر موجود وو. د کاڼي غوندې سخت به وو او په مختلفو رنګونو کې به وو لکه زیړ، سور او سپین کهربا د دغه بوټي یوه برخه ده."

"د سروه او کاج د ونو د نسل نه یو بوټی دی چې په پخوانو وختونو کې به ډېر موجود وو. د کاڼي غوندې سخت به وو او په مختلفو رنګونو کې به وو لکه زیړ، سور او سپین کهربا د دغه بوټي یوه برخه ده."

> اوس که لوستونکي په دغه شعر غور وکړي نو تربیت یافته اذهانو ته به معلومه شي چې شېدا د خپل ارفع خیال اظهار سره لوستونکی ځان سره د علویت په کوم مقام ودروي او بیا د داسې ارفع خیال د اظهار لپاره د هغه د بیان انداز هم څومره ماهرانه او د فن د بلندۍ څرګندونه ده.

> په کهربا کې په کېره باندې د مښلو نه پس کشش یا د راښکون طاقت پیدا شي او بیا معمولي شان خپلې یا ډکې ځان ته راکاږي. یعني د راښکون طاقت یې ډېر لږ وي خو شېدا وايي چې د چا د قسمت ستورې روښانه وي نو هغه د کهربا په معمولي طاقت هم د ټولو ستورو کهکشان ځان ته راکاږي یعني د ډېر لوی څیز په ډېر معمولي طاقت خپلولو لپاره د شېدا د تخیل رفعت او د بیان انداز څومره عالي دی.

اوس که لوستونکي په دغه شعر غور وکړي نو تربیت یافته اذهانو ته به معلومه شي چې شېدا د خپل ارفع خیال اظهار سره لوستونکی ځان سره د علویت په کوم مقام ودروي او بیا د داسې ارفع خیال د اظهار لپاره د هغه د بیان انداز هم څومره ماهرانه او د فن د بلندۍ څرګندونه ده. (پای)

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د ۱۴۰۵ ل.کال، د وري میاشتې ۱- ۲مه ګڼه | پرله پسې ۴٦۵-۴٦٦ مه ګڼه

مسؤول مدير: څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

مهتمم: پښتون پښتون

کمپوز او ډیزاین: دوکتور خاورين

کتنپلاوی: اکاډمېسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز
څېړنيز ارګان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

برېښناليک: zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

د اړيکې شمېرې: (780831960) (0) (+93)

(202201279) (0) (+93)

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپیناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ




## سوځېدلې بېره

پروفیسور اسیرمنګل

دوکتور محب وزير د پښتو ادبياتو يــــو ځيرک ليــکوال دی چې هم شعر ليکي او هم نثر؛ ولې زيات پام يې څېړنې او کره کتنې ته دی. د کيسې که هــر څو باقاعده ليکوال نه دی ولې نااشنا ترې هم نه دی. يو ناول "او کاروان روان شو" يې چاپ دی. اوس د لنډې کيسې ميدان ته هم راغلی دی. الله تعالی دې وکړي چې په دې کې ثابت قدم پاتې شي. مونږ سره کيسه ليکوال ډېر دي خو د تکنيك په حواله د يو څو ملګرو نه علاوه څه نوې تجربه مخې ته لا نه ده راغلې.

د ډاکټر محب وزير څو لنډې کيسې په ټولنيزو رسنيو کې ما وړاندې هم لوستي دي، ډېرې خوندورې دي. اوس يې په ۲۰۲٦م کې د "سوځيدلې بېره" په نامه کتاب هم چاپ شوی دی. د موضوعاتو سره يې د تکنيک خيال هم ساتلی دی. سوځيدلې بېره، تورخړ سپي، خاموشي، پاڼه، خړڅادر او خړې اوبه چې لوستونکي لولي نو د نوې کيسې تنده پرې ماتيږي. "مړي چا دي ژوندي کړي" او "پاڼه" نفسياتي لنډې کيسې دي.

"مړي چا دي ژوندي کړي" تر چاپ وړاندې په ټولنيزو رسنيو کې د "غاپي" په نوم خپره شوې ده چې د جبل د يو لېوني قيدي ترجماني کوي. د دې کيسې په شاليد کې د موجوده ناورين انځورګري شوې ده. د کيسې مرکزي کردار جېکب چې د لېوني قيدي د سپي په شان غيپدلو لکه د نورو کسانو حېران کړی وي. دا لېونی څوک دی چې د سپي په شان غاپي او د کومو حالاتو نه راتېر شوی دی؟ په همدې پس منظر کې د ناورين يو عکس وينو. دا کيسه د لړه کيو عکاسي هم کوي چې د بدامنۍ په چپه کې دوي هم اغېزمن شوي دي.

"پاڼه" يوه رواني کيسه ده. ما چرته د انګريزي فکشن يوه کيسه لوستې وه چې په هغې کې د يوې بيمارې مصورې کردار انځور شوی وي هغه له خپل ژوند نه تنګه وي. د کمرې نه د يوې ونې پاڼې اپوټه شماري خيال يې وي چې کله د ونې اخرې پاڼه ولويږي نو بس دا به د دې هم د ژوند اخرې ورځ وي. ولې ورسره خوا کې يو بل بوډا مصور چې د دې نه خبر شي هغه ټوله شپه تېره کړي هغه پاڼه چې د ونې نه وغورزيږي نو دې ورته په ديوال بله پاڼه جوړه کړي. هغه جينۍ چې سحر د خپلې کمرې نه وګوري داسې ښکاري چې لا پاڼه لويدلې نه ده. دا جينۍ بچ شي ولې هغه بوډا مصور يخني ووهي د نمونيا نه مړ شي. "پاڼه" کيسه هم دغه روان لري. په هر حال دا توارد هم کيدی شي؛ "باد" هم يوه زړه پورې رواني کيسه ده. د کرکټر يې پــــه پيل کــــې هوا ډېره خوښه وي



ولې بيا يې د حالاتو له کبله الرژي پيدا شي لـــه هوا سره نه څادر يوسي. چې هوا ترې چـې لوستونکی په دې کيسه باد ګڼ قسمونه غور کـــوي د اېشمـه، وږمه، دي لکـــــــه سېلی، بړبوکۍ، بادامـــــــه، کوم کــــــردار دلته چې د شوې ده هغه رواني شننه خوند اخلي. د اول د هوا نه هغې لپاره باد يوه خوشګواره اېشمه او يا وږمه وي. دا د کامياب ژوند علامه وي چې ورسره مينه کيږي چې کله دغه باد د نفرت شکل اختيار کړي سېلۍ شي، زول شي، بړبوکۍ شي، نو وبال شي چې دانسان د تباهۍ باعث ګرځي؛ کله چې ولګيږي د ځان سره هغه د حيا څادر هم يوسي چې ورباندې دسرو وينو تپي يا ټاپي لګيدلي وي هــــــم دغه زما د خاورې د تورسرو د درديدلي ژوند کيسه ده، چې کيسه ليکوال په علامتي بڼه وړاندې کـــــــړې ده. "سوځيدلې بېره" د کتاب د ټايټل کيسه ده دا د موجوده کړکيچنو حالاتو استعاره ده چې په علامتي انداز د موجوده حالاتو عکاسي کوي. تکه شنه د مېوې ډکه بېره د ښايسته وطن د خوشحال ژوند ترجماني ده چـــــې د مچو ګبين خواږه به يې په ټول اولس خوړل. بېره د پښتني رومان يوه هينداره ده، وايي:

### راوړه بندۍ بندۍ چې وېږونه
### جانانه بېرې له راځه چې وځانګونه

داسې نـــــور ډېر مثالونه شته خو کيسه ليکوال چې کومه سوځيدلې بېره يادوي هغه د موجوده دردېدلي وطن ترجماني کوي کله چې دې شنې بلنځورې بېرې ته يوه جوړه چې نړيوال استعمار ته اشاره کوي راشي چې په ونه زيږې ځيلې(منچې) خـــــورې شي بيا د بېرې څه حال شي. سپين ږيرې مشر چې خلک يې چغو ته غوږ نه ږدي دا بغېر له باچاخان بل څوک کېدای شي. دا يوه سياسي کيسه ده او پيغام يې دا دی چې نيم تباه دی اوس هم څه تلي راغلي نه دي بايد نور احتياط وکړی شي.

ډاکټر محب وزير د پښتو ژبې تکړه ليکوال دی. د انساني نفسياتو ژورو ته د کوزيدلو چل ورځي. د دې جنتي خاورې د دوزخي حالاتو د انځورګرۍ کيسه چې په کوم چل کوي او خپل کردارونه څـــــنګه رغوي هغه د ستاينې وړ دي. رمزيت،ايمايت، سسپنس او د پلاټ چستي يې هره افسانه د لوستو غوښتنه کوي. ځای په ځای کيسه ليکوال سيمه ييزې روزمرې او کلمې کاروي لکه "مړي چا دي ژوندي کړي" کيسه کې د برنډې سترګې روزمرې په ځای ببرې سترګې او د ببر سر په ځای ګګر سر راوړي دي. دا ښه خبره ده يو خو د دې نه د ليکونکي پته اولګي چې تعلق يې د پښتو کومې لهجې سره دی او ورسره د ژبې لمن هم خوريږي.

په هـــــــر حال د ډاکټر محب وزير د افسانو علامتونه څه مشکل نه لري په اسانه ترې هغه پيغام تر لاسه کېدای شي چې کوم کـــــــيسه ليکوال خپلې ټولنې ته ورکول غواړي کردارونه يې هم زوردار دي. د هرې افسانې نه دا نتيجه په اسانه راووځي چې ليکوال په خپله سينه کښې د خپل وطن او خپلو وګړو لپاره څومره درد لري. فکري بڼې سره سره دا افسانې فني خواږه هم لري. په پای کې وايم چې د ډاکټر محب وزير دا کيسې د پښتو کيسه ييز ادب لپاره يو ښه زېرې دی بايد چې دغه ټولګه د کيسه ليکوال اخرې زيار نه شي. پای

## شاعر، شاعري او زمونږ خواهشات

دوکتور محب وزير

عام رواج دا دی چې شاعري هم د شاعر د شخصيت په تله تلل کېږي. يعني کوم شاعر چې زما خوښ دی نو د هغه شاعري هم ښه ده . د شاعر د خوښېدلو نه زما مراد په ذاتي بنياد د شاعر خوښېدل دي. يعني د سوچ، فکر، اخلاقياتو، عادتونو، خويونو په لحاظ يا د ذاتي، نسلي، قبيلوي، قامي، مذهبي، سماجي يا طبقاتي تعلق په لحاظ د يو چا خوښېدل دي، نه چې د شاعرۍ په حواله. بس چې په دې پورتنو بيان شوو حوالو مو شاعر خوښ وي نو شاعري مو يې هم خوښه وي.

خو که وګورو نو شاعر (ذات) او شاعري دوه جدا جدا څيزونه دي. شاعر چې هر رنګه دی خو شاعري ته يې کتل پکار دي. د کارلايل څخه يو چا تپوس کړی و چې ګوېټې د جرمني ډېر لوی شاعر دی خو د هغه اخلاقي حالت ښه نه و. نو کارلايل ورته په ځواب کې وايي چې دا خو داسې شوه لکه ته چې د نمر نه هم دا شکايت کولی شې چې هغه ستا سيګار يا سيګرټ ولې نه شي بلولی.

علامه نياز فتحپوري يو ځای ليکلي چې که مونږ چا ته ووايو چې ته ښه شاعر ځکه نه يې چې ته يو ښه انسان نه يې. نو ممکنه ده چې هغه راته ووايي چې ته خو يو ښه انسان يې نو بيا ښه شاعر ولې نه يې. يعني د ښه انسان جوړېدو لپاره مونږ څه نه څه هڅه کولی شو او ځان څخه په هڅه ښه انسان جوړولی هم شو، ولې ښه شاعري په هڅو او کوششونو هم اسانه نه ده.

اصل خبره دا ده چې شاعر "څه" وايي، د هغې روح پېژندل دي، دغه روح که په عملي ژوند کې د تجربې (يعني عمل) په وسيله پېژني او که د مشاهدې په وسيله، د مطالعې په وسيله وي او که په اورېدو وي. خو ظاهره ده چې کوم "څه" د تجربې په وسيله پېژندل کېدی شي، هغه په دې نورو ټولو وسيلو پېژندل ډېر اسان نه وي. يعني که يو شاعر په اخلاقياتو شاعري کوي نو بيا هغه هله ښه شاعري کولی شي چې پخپله هم د اخلاقو نمونه وي. که يو څوک د خواريکښو او دهقانانو په حواله شاعري کوي نو تر څو چې يې پخپله د خوارۍ، مزدورۍ او استحصال تجربه نه وي شوې، تر هغې د ښې شاعرۍ اسره ترې هم نه دي ساتل پکار. خو که يو څوک په بله کومه موضوع ښه شاعري کوي او مونږ ترې دا غوښتنه کوو چې د خواريکښو په حالت او غربت ولې شاعري نه کوي يا دا فلانی ځکه ښه شاعر نه دی چې ترقي پسند نه دی يا دا فلانی ځکه ښه شاعر دی چې قام پرست دی يا دا فلانی ځکه ښه شاعر نه منم چې شاعرۍ کې يې ملائيت ښکاري. دا ټول د شاعرۍ لوازمات نه دي بلکې زمونږ خپل خواهشات وي.

> علامه نياز فتحپوري يو ځای ليکلي چې که مونږ چا ته ووايو چې ته ښه شاعر ځکه نه يې چې ته يو ښه انسان نه يې. نو ممکنه ده چې هغه راته ووايي چې ته خو يو ښه انسان يې نو بيا ښه شاعر ولې نه يې. يعني د ښه انسان جوړېدو لپاره مونږ څه نه څه هڅه کولی شو او ځان څخه په هڅه ښه انسان جوړولی هم شو، ولې ښه شاعري په هڅو او کوششونو هم اسانه نه ده.

اصل شی شاعري ده چې ما ورته د "ترنګ" نوم ورکړی دی، بس دا عجيبه ترنګ دی چې په شاعر کې موجود وي. ترقي پسندي، قام پرستي، اخلاقيات، وغېره وروستو خبرې دي. که شاعري وه بيا بغېر د دې نه چې شاعرۍ کې "څه" دي، اعتراف يې ضروري نه بلکې د شاعرۍ په نقادانو فرض هم دی. پای


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

Editor - In - Chief:
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

Assistant:
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

Compose & Layout Design:
Dr. Khawreen

Address: Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Naway Khaar Kabul - Afghanistan
Contacts: (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
Email:zerai1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com


## د پښتو ژبې او ادب لوی خدمتګاران

دوکتور مصطفی کمال

يو وخت و چې د پېښور قيصه خانه د پښتو کتابونو د چاپولو او خورولو لوی مرکز و. د هند له وېش وړاندی به دلته زياتره سيکانو دغه کاروبار کولو چې پښتو کتابونه به يې د ډيلي، بمبۍ او وروستو د لاهور په مطبعو (پريسونو) کې چاپول او د قيصه خانې له بازاره به يې د پښتونخوا او افغانستان تر مارکېټونو رسول. په دغو کې له ټولو زيات مشهور نومونه د ديوان کړک سنګه، ديوان چهجو سنګه، جيون سنګه، رتن سنګه او سنت سنګه وو، چې په دغه دوره کې يې د پښتو ګڼ اولسي او اسلامي کتابونه چاپ کړي دي. دا د نولسمې ميلادي پېړۍ وروستۍ او د شلمې پېړۍ لومړنۍ لسيزې وې، چې د سيکانو په لاس د پښتو ژبې د ليکوالانو غلام محمد ګګيانې، ملا ارسلا، ملا شېرين، احمد کلاچوي، ملا نعمت اللّٰه، ملا احمد جان، امانت مليار، امان ګوجراتي او نورو منظوم کتابونه چاپ شول. دې کتب فروشانو به زياتره د فارسۍ او عربۍ کتابونه دغو ليکوالانو شاعرانو ته حواله کول، کومو چې به د دغو منظومــــې ترجمې قيمتاً دوی ته کولې. داسې به سيکانو کتب فروشانو هغه کتابونه غوره کول، د کومو چې به د خرڅ امکان زيات و.

په دغو پسې پښتنو کتب فروشانو هم د پښتو کتابونو په چاپولو لاسونه پورې کړل او د تقسيم نه پس چې سيکانو له پېښوره کډه وکړه، نو دا کاروبار هم د دې ځای، پښتنو ته پاتې شو. په دغو کې چې کومو کتب فروشانو دې روزګار ته وده ورکړه، په هغو کې د رحمانيه کتب خانې ميا حاجي عبد الخالق او فضل مالک، د قديمي کتب خانې حاجي فضلِ احد، د نوراني کتب خانې حاجي فقير محمد، د اسلامي کتب خانې حاجي عبدالمنان او ورپسې د رحمٰن ګل پبلشرز مالک رحمن ګل شامل دي. د سيکانو نه تر دې پښتنو کتب فروشانو، چې کوم کتابونه چاپ او خواره شول، په هغو کې د قرانِ پاک ترجمې او تفسيرونه، د احاديثو او فقهې کتابونه، منظوم داستانونه او قيصې ... او د حمدونو، نعتونو، جنګنامو، نور نامو، وفات نامو، فالنامو، چاربېتو، ټپو، نيمکو او نور کتابونه د ذکر وړ دي.

څه کتابونه به داسې هم وو چې چا پښتون مُلا يا شاعر به په نثر يا نظم کې څه وليکل نو دې کتب فروشانو له به يې يوړل. هغوي به وکتل چې دا به خلک خوښ کړي، نو ځکه به يې ترې د هغه کتاب د چاپولو حقوق په بيعه واخيستل. خو په دې اړه ما ته د اسلامي کتب خانې د حاجي عبدالمنان زوی عبداللطيف وويل چې دغو ليکوالانو شاعرانو کې به داسې هم وو چې کتاب به يې په مونږ خرڅ کړو، خو چې کامياب به شو، نو هم هغه کتاب به يې په نورو کتب فروشانو هم خرڅ کړو او دغسې به دغه کتاب په يو وخت ګڼو پبلشـــــــرانو چاپ کولو.




عبداللّٰه استاد، علي حېدر جوشي، جمشېد د ټوپۍ، نور محمد د نوښار، شېر زمان محتاج، عبدالوهاب دستي، د سنګر جمال، عاصي لطيف اللّٰه، مير امان، تاج محمد مهمند، سېد اکبر صابر او نور د وروستۍ دورې کامياب شاعران وو چې کتابونه به يې په لر او بر کې خلکو خوښول او د قيصه خانې کتب فروشانو به بيا بيا چاپول.

د قيصه خانې د کتب فروشۍ د اخرې دورې له ټولو زيات کامياب کتب فروش رحمن ګل و، څوک چې اول د ميا حاجي عبدالخالق، فضل مالک سره ملازم او شاګرد و، خو وروستو يې د "رحمٰن ګل پبلشرز" په نــــوم، اول د قيصه خانې بازار په ډهکي نعلبندي کې او بيا د جنګي محلې په صدف پلازه کې خپله اداره وچلوله. رحمن ګل د خپلې ادارې کتابونو له جدّت ورکړو او پـــه مخپاڼو (ټايټلونو) يې تصويرونه د ښکلو او زړه راښکونکو رنګونو سره چاپول شروع کړل. په دې اړه اروابناد رحمن ګل ما ته په خپله ويلي وو چې:

"دلته په پېښور کې يو احمد نومي ارټسټ او پېنټر و. هغه ته مې وې چې که ته زما کتابونو له د کتاب د مندرجاتو مطابق تصويرونه جوړوې، نو زه به درله معاوضه درکوم او زه به يې په خپلو کتابونو چاپ کوم. هغه ډېر ښکلي تصويرونه زما د کتابونو ټايټلونو له جوړ کړل. بيا ما به کتابت هم د هغو وختونو په غوره کاتبانو سېدالرحمان او د هغه په زوي انوارالحق کولو او دغسې زما کتابونه خلکو خوښول شروع کړل او زما کاروبار په نورو باندې بر شو".

د افغانستان جنګ د قيصه خانې د کتابونو دغه کاروبار څه نه څه اغېزمن کړ خو بيا هم تر ډېره دغه کتابونه خرڅېدل او د دغو کتب فروشانو روزګار روان و. ولې دلته د بدامنۍ له کبله دا کاروبار په ټپه ودرېد. ځکه چې ما ته رحمن ګل ويل چې ما دغه کتابونه چاپ کول له دې وجې پرېښودل چې زه اوس بيمار يم او دا چاپ شوي څيزونه خلق د موسيقۍ سره وايي نو زما به ګناه کېږي خو هر کله چې دا خبره ما د حاجي فضل احد اينډ سنز مالک ته وکړه نو هغه وخندل او ما ته يې په راز دارانه انداز کې وويل چې دغه وجه نه ده، اصل کې مونږ ته رقعې غورځول شوې وې، چې که چا دا کتابونه چاپ کړل، نو ښه به نه وي.

بيا هم دغه دوکانداران د حالاتو د ښه کېدو په امېد په خپلو دوکانونو کې ناست وو او "زېب ارټ پبلشرز" په يوه نوې جذبه د اولسي طرز دغه کتابونه چاپول پيل کړل خو دغه کاروبار هغه وخت په پوره ډول په ځای کېناست، کله چې روانه او ساده پښتو، د نوې املا په نامه، بدله او پېچيده کړې شوه. لوستو خلکو ته په تعليمي ادارو کې نوې تهجي حرفونه وښودل شول چې اغېز يې په نوره ټولنه هم وشو او دغسې د قيصه خانې د کتب فروشۍ روايت تقريباً ختمېدو ته نږدې شو.

دغه ټول ياد خلک د پښتو ژبې لوی محسنان وو چې له يوې پېړۍ څخه زياته موده يې پښتو خوره کړې او په اولس قدرولې ده. پکار دي چې اوس د هغوي چاپ فنپارې ورکېدو ته پرېنږدو او د ادبي خوشامدګرو او غېر معياري خلکو په ځای، د دغو خلکو د خدمتونو د يادګيرنې په ډول، د هغوي ادارو ته اېوارډونه او انعامونه ورکړو. (پای)